# د کډوالۍ حکومتولي:
# په افغانستان کې د مفاهیمو او نهادونو کاري چوکاټ ووده

۱۵ کاله
باکیفیته څیړنه
څېړنې د بنه افغانستان لپاره
AREU

غبرګولی ۱۳۹۲
ولي محمد کنديوال او هلن سيز

## مقدمه

د وګړو د بې ځایه کېدو له مخ په زیاتېدونکو ګواښونو سره هممهاله، چې په افغانستان کې عامه خدمتونه ننګوي، د کډوالۍ حکومتولي د افغان حکومت او نړیوالو شریکانو پر کلیدي لومړیتوب بدل شویدی. په داسې حال کې چې کډوالي او له خپلو هستوګنو څخه بې ځایه کېدل، له تېرو لسیزو د افغانستان د ټولنې ثابتې ځانګړنې ګڼل کېږي، خو په وروستیو کې له خپلو سیمو څخه د بې ځایه کېدو پراخې او پیچلې څپې، د هېواد ثبات او پرمختیا له نوي ګواښ سره مخ کړې ده. د یو اټکل له مخې، د ۲۰۱۵ ز. کال له پیله، ۲۵۰،۰۰۰ افغانانو خپل هېواد پرېښي، چې دغه چاره، په اروپا کې د کډوالي او مهاجرت له روان بحران سره مرسته کوي. تمه کېږي، چې له دغه شمېر څخه، د پام وړ سلنه یې رد او بېرته افغانستان ته وګرځول شي. دغه لړۍ، له پاکستان او ایران څخه د افغان کډوالو د بېرته ریکارډ راستنېدنې سره هممهاله ده چې په ۲۰۱۲ ز. کال، تر یو میلون پورې کډوال راستانه شوي دي.. همدارنګه ، د داخلي بې ځایه کېدو کچه هم لوړه ده، چې د یو اټکل له مخې، یو میلیون افغانان د هېواد دننه له خپلو سیمو څخه بې ځایه شوي دي. نو د کډوالۍ بحران ته د یو جامع ځواب بیړنۍ اړتیا لیدل کېږي چې په افغانستان کې د دولت جوړونې پر لړزاند پړاو یې د اغېزې کچه راټیټه شي.

د دې مخینې په نظر کې نیولو سره د افغانستان د حکومتولۍ غونډه،د افغان او جرمن شریکانو په مشترک ډول د نورو شپږو موضوعاتو په شمول، د کډوالۍ حکومتولي انتخاب کړه . او په یوه مشارکتی بهیر کې د دې څېړنې ډلې، په دې هدف چې موجوده پالیسۍ، اداری جوړښت او د کډوالۍ بحران ته ځواب ورکول تحلیل کړي او د موجوده ظرفیت تشې په نښه کړي. دا پالیسي یادښت د هغه څېړنې موندنې او سپارښتنې خلاصه کوي چې په یوې موضوعي تحلیلی مقاله کې (د کډوالۍ حکومتولۍ: د مفاهیمو اونهادونو کاری چوکاټ د بشپړتیا ووده) تر عنوان لاندې خپره شوي ده.

## څېړندود

د کډوالۍ حکومتولۍ په تړاو د دغه شننې او تحلیل د ترسره کېدو په موخه له لومړنیو او ثانوي معلوماتو څخه ګټه اخیستل شوې ده. په کتابتوني څېړنه کې له حقوقي اسنادو ، پالیسیو، د وزارت ستراتیژیو، د اړوندو سازمانونو راپورونو او اکاډمیکو سرچینو څخه ګټه اخستل شوي. لومړني معلومات د ۲۰۱۲ ز. له نومبره د ۲۰۱۷ ز. کال تر فبروري د یو لړ کلیدي معلوماتي مرکو په ترڅ کې ترلاسه شول. د معلوماتي مرکو لومړنی پړاو، په کابل کې د دولتي او نړیوالو شریکانو له استازو سره د کلیدي مرکو په ترڅ کې ترسره شوه؛ په داسې حال کې، چې د یادو مرکو دویم پړاو، په ننګرهار ولایت کې بشپړ شو. سربېره پر دې، دغه څېړنې، هغو دوو مشورتي ناستو ته هم پاملرنه کړې، چې د ۲۰۱۷ ز. کال په جنوري او مارچ کې په دې اړه له شریکانو سره په لاره اچول شوي وې.

- **د ساحې د غوراوي معیارونه**

د دغه څېړنې د ترسره کېدو لپاره دوه ولایتونه (کابل او ننګرهار) ټاکل شوي وو. لکه څرنګه چې دغه څېړنه د حکومتولۍ په میکانیزم تمرکز کوي، کابل د سیاسي پلازمینې په توګه، چې زیات اړوند شریکان د دغه څېړنې لپاره په کښې میشت دي، او ننګرهار له دې امله غوره شوه، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې څېړنه د حکومتولۍ ټولې کچې په بر کې نیسي. له هغه ځایه، چې زیاتره راستنېدونکي ننګرهار د خپلې هستوګنې لپاره غوره ګڼي، نو دغه ولایت، کډوالۍ او حکومتولۍ ته یې په پام سره، د وروستیو لړیو په تړاو ځانګړی لید وړاندې کوي.

- **د څېړنې محدودیتونه**

د دغه څېړنې په وړاندې یو شمیر محدودیتونه هم موجود وو. تر ټولو مهمه خبره دا ده، چې د یادې څېړنې د ترسره کېدو پرمهال په افغانستان کې د کډوالي حکومتولی تر چټک بدلون لاندې وه. په دې اساس دغه څېړنه د وروستني جوړښت په اړه د څرګندونو د وړاندې کولو پرځای، د لېږد پر دغه پړاو او هغه لاملونو ، چې دغه پړاو ته بڼه ورکوي تمرکز لري. لکه څرنګه چې دغه څېړنه د پالیسي څېړنې له لارې تر ټولو مقدماتي معلومات دي، نو عمدتآد ثانوي معلوماتو پر کیفیت تکیه لري. کوم ځای کې چې د معلوماتو نیمګړتیا موجوده وي ،او دغه نیمګړتیا په افغانستان کې د کډوالي حکومتولۍ د درک په برخه کې حیاتي وي، په دغه څېړنه کې ورته اشاره شوی، خو دا څېړنه له دې عاجزه ده چې د معلوماتو دغه نیمګړتیاوی په نښه کړي .

## مهمې موندنې

د کډوالي حکومتولۍ په تولیز ډول د پرمختیایي هڅو د یوې برخې په توګه چې تر ډېره له ایران او پاکستان څخه د خپلې خوښې راستنېدونکو کډوالو او داخلي بېځایه شویو کسانو باندې تمرکز درلوده. پر ۲۰۱۳ ز. کال د کورنیو بېځایه شویو کسانو د پالیسۍ په تصویبېدو سره، د کډوالي حکومتولۍ د یو اغېزناک سیستم د جوړېدو او رامنځته کېدو په تړاو ارزښتناک ګام واخیستل شو. په هر حال، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت له خوا د دغه پالیسۍ پلي کېدل له مکرر ځنډ سره مخ شوه او د فساد او نااغېزناکتوب له تور سره مله وو.. افغان حکومت د ۲۰۱۲ ز. کال په ډسمبر کې د "د کډوالو او داخلي بېځایه شویو لپاره د پالیسي چوکاټ" معرفي کړ، ترڅو د کډوالي حکومتولۍ اغېزناکتوب پیاوړي او داسې سیستم رامنځته کړي، چې د بې ځایه کېدو د نوي کیفیت ځواب ویونکی وي.

د ادغام د یو مفهومي کړنلارې له مخې، د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو پالیسي، د هغو مخکنیو اصولو په پرتله، چې د داخلي بېځایه شویو پالیسي له خوا څرګند شوي وو، د کوم مهم او ارزښتناک بدلون ښودونکی نه ده. د داخلي بېځایه شویو د پالیسۍ په څېر، د مهاجرت د مدیریت پالیسۍ دغه نوي چوکاټ هم د عامه خدمتونو د وړاندې کېدو لپاره، چې جامع او اوږدمهال ځواب ته اړتیا لري، یوه ننګونه ګڼل کېږي. د دې پرځای، د پالیسۍ نوی چوکاټ، د دندو پر تخصصي کېدو په ځانګړې توګه د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت پر ونډې تمرکز لري. د همغږۍ یو بل جوړښت – د بېځایه شویو او راستنېدونکو اجرایي کمېټه (DiREC)، چې د اجراییه رییس په دفتر کې موقعیت لري – هغه پالیسۍ او د ندو همغږي ښېرته تنظیم کړي چې مخکې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت له خوا تر سره کیده. نور بنسټیز مسوولیتونه لکه د ځمکې وېش او دایمي حل، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت څخه نورو ادارو ته ولېږدول شو. په اصل کې، د کډوالو او بېځایه شویو لپاره د پالیسۍ چوکاټ په دې لټه کې دي ، چې د خپلې همغږۍ د مکانیزمونو د بیا جوړښت له لارې، د کډوالۍ په مدیریت کې ښه والي رامنځته کړي.

دا په یوه برخه کې له تېرو کلونو څخه هغه ترلاسه شوي درسونه منعکسوي، چې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت، د داسې وزارت په ښه، چې په فساد کې د ښکېلتیا له تور او د ظرفیت له کموالي سره هم لاس او ګرېوان دی، د شریکانو له خوا په ورته ډول، د کډوالۍ د اغېزناک مدیریت پر لاره د ستر خنډ په توګه پېژندل شوی دی. د یوې پایلې په توګه، دغه وزارت د شریکانو په وړاندې خپل اعتبار او باور له لاسه ورکړی او ورځ تر بلې د پالیسۍ او پروګرام جوړونې د طرحو او نوښتونو په برخه کې څنګ ته کېږي. د پالیسۍ په کچه د دندو پر بیا تنظیم تمرکز، که څه نورو اړوندو ننګونو ته، چې په تېرو وختونو کې د پالیسۍ پلی کېدل یې محدود کړی و، پاملرنه نه ده شوې. په ځانګړې توګه په ولایتي کچه د ظرفیت نشتوالی وښودله چې دغه څه د مرکزي او ولایتي حکومتولۍ ترمنځ د همغږۍ او یووالي لارې کې یو ستر خنډ دی. د دغو ننګونو پر ځای پاتې کېدل، هغه شکونه زیاتوي، چې د پالیسۍ نوي چوکاټ به څومره د کډوالۍ بحران په برخه کې، په لنډمهاله او منځمهاله دوره کې اغېزناک واقع شي.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت څنګ ته کول یا حاشیې ته ورل او د بېځایه شویو او راستنېدونکو اجرایي کمېټه معرفي کول، په افغانستان کې د حکومتولۍ په برخه کې ډېرې پوښتنې رامخ ته کوي. د موجودو ادارو د پیاوړي کولو پرځای، د تصمیم نیونې د موازي جوړښتونو په رامنځته کولو کې، دا د متمرکز کولو لپاره یوه بېلګه ده، چې تر ننه پورې د افغانستان د ادارو د ښې بدلېدو لید وړاندې کوي. د سیاسي اقتصاد د پی ریزۍ په اړه یوه ارزونه ښیي، چې هغه تصمیم نیونه، چې د نوي پالیسي چوکاټ لامل شو، د افغانستان ملي یووالي حکومت په دننه کې د شریکو ډلو د سیاسي لانجو پایله وه، چې د نړیوالې ټولنې د لومړیتوبونو د ښې په بدلېدو سره ښېرته پیاوړی شو. په داسې حال کې، چې په سیاسي مرکزونو کې د تصمیم نیونې لړۍ ځانګړې کول، کېدای شي په لنډمهاله توګه اغېزناک وي، خو شریکان باید پر سیاسي ثبات باندې یې اوږدمهالې اغیزې له پامه و نه غورځوي.

اوسنی سیاسي چاپېریال د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت لپاره د یو شمېر محدودشویو انتخابونو ښودونکی دی، چې ښېرته خپل سازماني موقعیت ترلاسه کړي. د باور هغه بحران ته په پام سره، چې سرچینو ته د لاسرسي د محدودیت لامل ګرځېدلی، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت باید هغه برخې په لومړیتوب کې راولي، چې پکې پانګونه کوي. دا ښایي د کډوالي هغو اړوندو موضوعاتو ته هم شامل شي، چې اوسمهال په نوي پالیسۍ او د همغږۍ په سیستمونو کې له پامه غورځول شوي دي.

څېړنه ښيي، که څه هم د کډوالي حکومتولۍ هغه موضوع ده، چې په چټکۍ سره بدلون مومي، خو د کډوالي بحران اړتیاوو ته د اغېزناکې رسېدنې لپاره تمه کېږي چې تعدیل پکې راشي. همدارنګه په مرکزي کچه د دې پرځای، چې د پالیسۍ تدوین په پام کې ونیول شي، اړتیا ده چې د پالیسۍ تطبیق او پلیتوب ته زیاته پاملرنه وشي. سربېره پر دې، د کډوالي اوسنی بحران، د عمومي پلان جوړونې او د حکومتولۍ میکانیزمونو د پیاوړتیا اړتیا، په ځانګړې توګه په سیمه ییزه کچه د بېځایه شویو لپاره د عامه خدمتونو د اغېزناک مدیریت د یو شرط په توګه، رامخې ته کوي. د دغه څېړنې د موندنو پر بنسټ، لاندې وړاندیزونه چمتو او وړاندې کېږي:

### سپارښتنې د حکومت لپاره:

- د بیځایه شویو او راستنېدونکو اجرایي کمېټې (DiREC) او بېړدمهاله ستراتیژۍ ته باید پراختیا ورکړل شي او هغه دندې باید تصویب شي، چې کمېټې ته رسمیت وربښي یا د لېږد یو داسې بهیر تدوین شي، چې په هغه کې دندې تر ډېره په اصلي شریکانو پورې اړوند ېږي؛
- د ولایت او مرکز ترمنځ د درزونو له منځه وړلو له لارې په عمل کې د پالیسۍ پلی کول او هغو ساحو ته نژدې حرکت، چې هلته خلک مېشت دي او مرستو ته اړتیا لري؛
- د حکومتولۍ په اوږدمهاله جوړښتونو کې ، د نوي اجراییه کمېټې او د دې د ملاتړو جوړښتنو ونډه واضح کړئ ، په شمول د مالي اړتیاوو او استخدام، چې د دې له پایدارۍ مطمیین شئ. همدارنګه د مهاجرینو د وزارت د ظرفیت لوړونې تګلاره په خپل وار سره په جریان کې واچوئ.
- په ولایتي او مرکزي کچو کې د موثرې حکومتولۍ لپاره باید پراخو موجودو خنډونو ته رسېدنه وشي؛ لکه د پلان جوړونې ظرفیت او د حکومتولۍ د کچو یووالي او همغږي. همدارنګه د پالیسي جوړونې پرځای د پالیسۍ پر تطبیق تمرکز وشي، همدارنګه له پلان جوړونې تر مدیریت پورې باید د حکومتولۍ په ټولو کچو کې همغږې زیاته او پیاوړې شي؛
- د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت سره په دې برخه کې مرسته، چې د کډوالو او بیځایه شویو لپاره د پالیسۍ چوکاټ په تړاو خپله ونډه او مسوولیتونه روښانه کړي، او د هغو دندو او کړنو بیا تعریف وړاندې کړي، چې اړتیا یې لیدل کېږي؛

### د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت لپاره

- یوه ستراتیژیکه بیاکتنه باید ترسره شي، ترڅو د هغو عواملو په تړاو یوه ګډه ارزونه وړاندې شي، چې په تېرو وختونو کې د اداري پرمختیا لاره کې خنډ ګرځېدلي وو ؛
- هغه نوښتونه او طرحې باید وپېژندل او پلي شي، چې د ټولو کورنیو او نړیوالو شریکانو ترمنځ د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د اعتماد د بیا ژوندي کېدو لامل ګرځي؛
- د مسؤولیتونو او دندو د لومړیتوبونو په نظر کې نیولو سره د کډوالو چارو وزارت د ونډې یو نوي تعریف، د دغه څېړنې له وړاندیزونو څخه په ګټه اخیستنې سره – د کډوالي حکومتولۍ د بېلولو پرځای پر یووالي او تر اجرااتو پر همغږۍ تمرکز؛
- د مؤثرې داخلي همغږۍ لپاره د معیارونو او کړنلارو د تدوین او تعریف له لارې، د همغږۍ مفهوم جوړونه؛
- د کډوالو او بیځایه شویو لپاره د پالیسۍ چوکاټ سره جوخت، د وزارت ستراتیژیک پلان ته بیاکتنه او همدارنګه د هغو ونډو لومړیتوب بندۍ، چې د کډوالو چارو وزارت له خوا چمتو کېږي.

### د نړیوالې ټولنې لپاره:

- د حکومت له هغو جامعو کړنلارو سره، د عامه خدمتونو د وړاندې کولو یو پارچه کولو چارې ساده کول، د خپلو پروګرامونو همغږۍ کول، او پر هغو سازماني سیستمونو تمرکز چې دغه خدمتونه وړاندې کوي؛
- د کډوالو چارو وزارت سره د ښکېلتیا او تعامل پر اوسني محدودیت بیاکتنه او د دې ارزونه چې آیا د همکارۍ لپاره کوم داسې اړخ شته، چې وکولی شي، د بې اعتمادۍ او ظرفیت کموالي په برخه کې له دغه وزارت سره مرسته وکړي؛
- د یو موردي څېړنې په توګه د کډوالي حکومتولۍ کارونه، ترڅو په افغانستان کې د اداري جوړونې او پرمختیا ټولیزې ستراتیژۍ او کړنلارې وڅېړي؛
- د پوتانشیلونو او محدودیتونو په جامع درک او پوهاوي سره، د ظرفیت جوړونې د تېرو هڅو یوه سیستماتیکه ارزونه، ترڅو له ذهني لید سره مقابله وشي او همدارنګه د فردي او ځانګړو میتوډونو اغېزناکول.

### د دغه موضوع په تړاو نورې څېړنې

- په سیمه ییزه کچه د کډوالي حکومتولۍ په تړاو د څېړنې ترسره کول، په ځانګړې توګه په هغو ولایتونو کې زیات ستنېدونکي لري.
- د دې لپاره چې ادارو ته داسې ستراتیژۍ جوړې شي چې پالیسیو جوړولو او همغږي کولو باندې متمرکز وي، لکه د مهاجرینو وزارت،باید د همغږۍ او پلي کولو د دندو ترمنځ توپیر ومونډل شي او بیا د دوی د اغیزمنتوب د زیاتولو لپاره ستراتیژې جوړې شي.

دغه پالیسي یادښت ، په دې موخه ترتیب شوي چې د افغانستان د حوکمتولۍ غونډې سره مرسته وکړي. د افغانستان د حکومتولۍ غونډه ، د افغان او جرمن شریکانو لخوا رامنځته شوې ده چې په حکومتولۍ پورې اړوندو موضوعاتو او پالیسیو باندې ، چې په لوړه کچه يې د افغانستان سره تړاو مشخص شوی دی، د خبرو او بحثونو لپاره یو پلاټفورم برابر کړي.

دا دوه کلن نوښت، څیړونکي او د حوکمتولۍ تجربه لرونکي او تصمیم نیونکي خلک د بحث لپاره سره راټولوي چې د حکومتولۍ په داسې میکانیزمونو کار وکړي چې د دولت جوړونې لپاره لارښود وي او همدارنګه په افغانستان کې د حکومتولۍ په اړه عامه پوهاوي بهتر کړي.

په دې برخه کې، دافغانستان دڅېړنې ا وارزونې اداره، لکه یو کنسورسیوم او شریک پلې کونکی ، د افغانستان د حکومتولۍ غونډې په مټ یو سلسله څېړنیزې مقالې خپرې کړې چې په افغانستان کې دحکومتولۍ په اړه موضوعات پکې څېړل شوي دي.

| | |
|---|---|
| د خپرونې کوډ | ۱۷۰۹P |
| ژباړه | خادم احمد حقیقی |

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) په کابل کې د څېړنې یو خپلواک بنسټ دی. د AREU موخه دا ده چې د لوړ کیفیت اړوندو څېړنو او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرولو، او د څېړنې او زده کړې د کلتور د ملاتړ له لارې پر پالیسۍ او عمل خپل اغېز وساتي او په دې اړه پوهاوی لوړ کړي. د خپلې موخې لاسته راوړلو لپاره، AREU د پالیسیو جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د AREU له څېړنو او کتابتونه کار واخلي او د څېړنې په برخه کی خپله ونډه لوړه کړي، او AREU شننو، فکرکولو او بحثونو ته لاره هواره کړي.

د AREU بنسټ په ۲۰۰۲م کال کې په افغانستان کې د مرستندویه ټولنو له خوا کېښودل شو چې د مرستندویه ادارو، ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو غیر حکومتي ادارو له استازو جوړ د مشرانو یو بورډ لري.